(c) ketabton.com: The Digital Library



عـــالـــی صــفــت ګـفـتــار د مـدیـنـي دے راڅــه
ســفــر د شـــکــلـــی ښــار د مدیـنـي دے راڅــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿15﴾

تبـلـیـغ کـــار د نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ دے راڅـــه
دا کـــار د هـــر مـــؤمـــن او مسـلـمــان دے راڅـــه
دا کـــار د مـحـمـد ﷺ عـربـی دے اے مسـلـمـانـه!
تــا پــریښــے وُلــے کار دا په دنیا کښـي دے انسانـه !
دنیـــا ځـــائــے د انســـان د امتـــحـــان دے راڅـــه
تبـلـیـغ کـــار د نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ دے راڅـــه
اخـلاق پــه دغـي لاره کښـي زده کیــږي د نبـی ﷺ
سـنـت پــه دغـي لار کښـي بیـانیــږي د نبـی ﷺ
نُــور راشـــه د دي لار پـــه هـر مـکــان دے راڅـــه
تبـلـیـغ کـــار د نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ دے راڅـــه
انـوار د مـحـمـد ﷺ پــه دغـي لاره کښـي پـرا تــهٔ دی
آثـــار د مـحـمـد ﷺ پـه دغـي لاره کښـي پـراتــهٔ دی
دنیـــا کښـــي حـفـاظـت د هـر شیـطـان دے راڅـه
تبـلـیـغ کـــار د نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ دے راڅـــه
بــرکـات د محـمـد ﷺ کـهٔ لیـدل غـواړے دلتـه دی
صـفـات د مـحـمـد ﷺ کـهٔ لیـدل غـواړے دلتـه دی
ګـــواه پـــه دي خبـــره هـــر انســـان دے راڅــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت مي تير يدلے هغه دار كيبي نن
ژوند مي د سكون دغه مسكن كيبي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښكلے وطن كيبي وے
هلته كيبي په ژړه ، بيا درود مي وے
فضل بيا په سر ، د ربّ ودود مي وے
ناست د مصطفىٰ ﷺ ښكلے مدفن كيبي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښكلے وطن كيبي وے
ذكر مي سلام وے د درود سره
مينه محبت وے د ودود سره
هر وختے په دي ښكلے سُخن كيبي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښكلے وطن كيبي وے
زړۀ ته مي نصيب وے اطمينان هلته
كولے احمد دغه شان بيان هلته
هر شيطان نه هلته په امن كيبي وے
ملاست د پاك نبي ﷺ ښكلے وطن كيبي وے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 49 ﴾

تا رانه تپوس كوو د چا سره مي مينه ده ؟
ما درته وئيل د مصطفىٰ ﷺ سره مي مينه ده
نشته د بل چا سره په زړۀ كيبي دلته مينه مي
دغه گواهي وركوي دلته دغه وينه مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختمـوي دنيـا كښـې تـل ، دلتـه كښـې بدمے

ډهال د جهنـم نـه د دنيا په هره لار دمے ، ووايـه دا تل

راشه تلاوت ئې هر سحر ماښام پكار دمے ، ووايه دا تل

كـار د صـالـحـانـو دمے ، څوك چې تلاوت كوي

كـار د امـامـانـو دمے څـوك چـې تـلاوت كـوي

خوند ئې په دنيا كښې له ګبينه مزيدار دمے، ووايه دا تل

راشه تلاوت ئې هر سحر ماښام پكار دمے ، ووايه دا تل

حـل د مشـكـلاتـو دمے ، څوك چې تلاوت كوي

امـن د بـدعـاتـو دمے ، څـوك چې تـلاوت كـوي

خوښ په دې جهان د مصطفىٰ خير الابرار ﷺ دمے ووايه دا تل

راشه تلاوت ئې هر سحر ماښام پكار دمے ، ووايه دا تل

دې كښـې خـوشـحـالـي شتـه دمے دلتـه د دنيـا د در

دې كښې خوشحالي شته دمے هرځائے كښې د هر بشر

تـالـره ! احـمده ! ښۀ ملګرمے په هر دار دمے ووايه دا تل

راشه تلاوت ئې هر سحر ماښام پكار دمے ، ووايه دا تل

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 59 ﴾

خـونـد د مـديـنـې ښـكـلـے سـفـر كښـې دمے

خــونــد ئــې د ديـدار پــه هــريـو در كښــې دمے

ښـكـلـے پــه دنيــا كښـې ښـائـستـۀ ښـار دمے

ښـكـلـے هــر ګـلــزار نــه ئـې ګـلـزار دمے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافره ! په دلبر ﷺ مي سلام وايه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿70﴾

ما ته یاران د مدیني هغه دوران یادوي
د مدیني ښکلي ګلونه، ساکنان یادوي
دلته په خوب ساکنان د مدیني وویمه
دلته په خوب کښې دا منظر د ورځي شپې وویمه
ما ته صدیقؓ عمرؓ علیؓ حضرت عثمانؓ یادوي
د مدیني ښکلي ګلونه، ساکنان یادوي
ما چي ئي ذکر دلته کړے په اشعارو کښي دے
اثر ئي پروت د مدیني په تولو لارو کښي دے
ما ته مداح د محمد ﷺ حضرت حسان یادوي
د مدیني ښکلي ګلونه، ساکنان یادوي
هغه ګلونه د نبي ﷺ د در دنیا کښي چي وو
ښکلي لعلونه د نبي ﷺ د در دنیا کښي چي وو
ما ته حسنؓ، حسینؓ ګلونه د جهان یادوي
د مدیني ښکلي ګلونه، ساکنان یادوي
په حسینانو کښي حَسین هر صحابیؓ راته نن
رښا احمده ! بره ستوري یادوي راته نن
ما ته حسین صورت دلبر ښکلے سلمانؓ یادوي
د مدیني ښکلي ګلونه، ساکنان یادوي

